# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدين بوم و بر زنده يک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم    از آن به که کشور به دشمن دهيم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
| --- | --- |

امين بسمل

۱۲ اگست ۲۰۱۲

درنو لوستونکو!

سلامونه او نېکي پيرزويني مي ومنئ  هيله ده دمبارکي روژې  بختورې اوبرکتي پلوشي درڅخه  را تاو وي تاسو شاهد ياست، چي د روژې په مبارکه مياشت کي ما کومه ليکنه نه درلوده دا ځکه چي نه مي غوښتل څوک زما دقلم په تېره څوکه خوږ شي البته زما ليکني، نيوکي اوتندوالی يوازې داصلاح او ناخوالو دورکېدو لپاره دي خو يو نيم کس بيا لړ څه په بله سترګه ورته ګوري په هرصورت وخت مو ډېر نه نيسم تاسو ټولو ته دګران افغانستان  او زموږ دپياوړو زلمو دبريا او ځلېدو مباره کي وايم  په  همدې اړوند مي په يو نظم کي دخپل زړه غوټي راسپړلي دي هيله ده ستاسو دخوښي سبب وګرزي .

## دملي يووالي او نيکپا په وياړ

نــن مــي بيـــا افــغانســتان افغانســتان شو
نـــن مـــي بيـــا په غليـم تندر اوتوفان شو
نــن مــي نـــوم د ملک دژبو په سر ناځي
نن ګـــټونـــکی په لـندن کي يوافغان شو
نـن زه ويـــاړمـــه پخــپل افغان زلمي مي
هزاره وروړنن  زموږ د درد درمان شـو
روح اللـه نيـــکپـــا سمبول  شو ديووالي
بخت ياره ورسره وکړه نور  هم ګران شو
نــن د قـــوم لـــه وړو کـوځــــــو  راووت
نن شـــريک د هرافغان په دستارخوان شو
نــور به نــوم دهــزاره وربـــاندي نه ږدئ
نــن نيــکپـــا بـــريـــا دهر قام اوزبان شو

هزاره ورونه زما زه هم ددوی ورور
دا تاجک ازبک ترکمن هم زما ځان شو
نورواړه قومونه هم دي زموږ ورونه
کوم بدبخت وایي یووالی مو پاشان شو؟
دنیکپا بریالیتوب لوی سبق راکړ
د ملي یووالي ګل دی شګوفان شو
اوس که غواړي دسر خیر دي غلیمه
پښي دسپکي کړه جهان له تا پښېمان شو
بهاوي تا په یوه پښه رقیب مات کړ
ستا مېړاني ته هر یو افغان حیران شو
درد دي واخلم درواوري شم هیواد واله
افغانیت دي نړیوالو ته عیان شو
نیکپا ګرزه لر اوبر کي په سرو سترګو
ته دټولو یي ستا ټول افغانستان شو
زه بامیانو ته درځم ته هم پکتیا ته
دبسمل یاران هر یو ستا دعا خوان شو